مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د ماکسیم ګورکی لیکنه
د احسان الله ارینزی ژباړه

۲۰۲۲/۰۱/۰۹

# مور او زوی

څو اونۍ وې چې دښمنانو ښار کلابند کړی و. دښمنانو هومره وسله درلوده چې خلکو به ویل په وسپنو او پولادو کې ډوب دي. د شپې به اورونه بلیدل. هسې ښکاریده چې د اور له زړګونو سرو سترګو څخه به د رذیلانه خوښۍ بځرکی وریدل او د اور د لمبو نڅا به د کلابند ښار خلك ځورول.

د ښار خلك به دې پوهیدل چې د دښمنانو د کلابندۍ کړۍ ورو ورو په ورو تنګیږي. د دوی د غټو- غټو چاغو آسونو شنهارۍ او د وسلو او خنداوو غږونه به اوریدل کیدل. د هغو کسانو د مستو خنداوو ځپې به، چې په خپل بریالیتوب ډاډه وو له ورایه رارسېدې.

ایا د دښمن د خبرو او خنداوو تر غږ نه پرته بل زړه دردونکی شی شته؟

دښمنانو ټولې هغه ویالې د مړو په اجسادو ډکې کړې وې چې ښار اوبه پکې راتلې. د ښار د دیوالونو شاوخوا باغونه یې سوځلي، مځکې یې ویجاړې او کورونه یې وران کړي وو. ښار له څلورو خواوو څخه د دښمن تر سختو ډزو لاندې شپې سبا کولې. د هغه لوخو او ورو سرتیرو ډلې به د ښار په تنګو - تنګو کوڅو کې رواني وې چې له جګړې څخه ستومانه وو. له کړکیو څخه به د ټپیانو کړوی ، د میندو ژړاوی، د ښځو او ماشومانو زاری او چیغې اورېدل کېدې. له ټولو سره دا ویره وه چې دښمن به کله یرغل کوي.

د ښار خلکو له شپې نه کرکه درلوده؛ ځکه کله به چې د شپې د تورې تیارې ځپې د غرونو له لمنو څخه په ښار خورې شوې او سپوږمۍ به راوخته، د ښاریانو د ژړاوو او چیغو غږونه به ښه اورېدل کېدل.

هغه خلك چې له ډېرې لوږې او ستونزو څخه ستومانه شوی وو او د څه مرستې هیله یې نه درلوده، ورځ په ورځ ناهیلې کېدل. خلکو به سپوږمۍ، د غرونو لوړو څوکو، د ویرونکو درو هسکو تیټو او د دښمنانو پوځې اډو ته په ډار کتل. دوی له مرګ سره لاس او ګریوان ووا او د ژوند له پاره ټول امیدونه یې له خاورو سره برابرشوی وو.

خلکو په خپلو کورونو کې ډېوې او اورونه، نه شوای بلولای. کوڅې به په تیه تیاره کې ډوبې وې او په دی تیاره کې به یوه ښځه چې توري جامې یې اغوستې، په کوڅو کې لالهانده ګرزېده. هرچا به چې دا ولیده یو بل ته به یې ویل:

-همدا ده!

-همدا ده!

خلك به غلي او ګرندي د دې له څنګه تیرېدل. سرتیرو او افسرانو به ورته ویل:

!ماریانا ، بیا په کوڅو کې ګرزې؟ پام کوه چې وژل کیږې او هېڅوك به دې پوښتنه ونه کړي--


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ښځه به ودریده؛ خو سرتیري به پاځیدل او روان به شول. ټولو له دې څخه کرکه درلوده. وسله والو ملیشو هم دا پیژندله او خپله لاره یې ځینې کږوله. ښځه به په تیاره کې یوازې روانه شوه. د ښار د ټولو بدمرغیو د سمبول په شان به، په کوڅو کې لالهانده وه. د ښار د خلکو د دعاوو، ژړاوو او چیغو غږونه به، د خنجر په شان د دې په زړه ننوتل او لنډه دا چې له زړه څخه یې ځاځکې – ځاځکې وینې بهېدې.

دا ښځه هم مور وه او هم د وطن لور. دا د خپل وطن او خپل زوی په غم کې ډوبه وه. د دې ځوان، زړه ور، ښکلی؛ خو بې رحمه زوی د هغو خلکو مشر و چې د دې ښار د ورانولو له پاره راغلي وو. لنډه موده مخکې به دې په خپل زوی ویاړل. مور خپل زوی، خپل وطن ته وراندې کړی و. هغه یې د خپلو خلکو د خدمت له پاره زیږولی و. دا ښار هغه ځاله وه چې مور او زوی دواړه پکې مېشت وو. د مور زړه له ټولو هغو ډېرو سره چې د دې پلرونو او نیکونو کورونه ترې جوړ کړي وو، تړل شوي و؛ خو اوس هغه زړه ډیرغمجن و. دا زړه په وینو کې ډوب و او نه پوهېده چې زوی ډېر ګران وي که وطن ؟

او په دې توګه به هغه ښځه هره شپه په کوڅو کې لالهانده وه. خلکو به د بدمرغی، مرګ او وینو استازې ګڼله؛ ځکه چې دا د یوه خاین مور وه!

یوه شپه د ښار په یوه تیاره کوڅه کې، د خاین مور له یوې بلې ښځې سره مخامخ شوه. هغه ښځه په یوه مړي پرته وه او ورو- ورو یې ژړل. کله - ناکله به یې سترګې اسمان ته ونیوې او په دعاوو به بوخته شوه. لږ لیرې وسله وال ساتونکي ولاړ وو او د وسلو د سمولو غږونه یې اورېدل کېدل.

د خاین مور پوښتنه وکړه:

-خاوند دې دی؟

-یه.

-ورور دې دی ؟

-یه، زوی مې دی. خاوند مې دیارلس ورځې مخکې وژل شوی او دا دی زوی مې هم ...نن .. له ... ما څخه ... بیل شو!

د شهید مور پاځېده او ورو یې وویل:

-خدای په هرڅه ښه پوهیږي، شکر خدایه!

د خاین مور پوښتنه وکړه:

-ولې شکر؟ اخر زوی دې وژل شوی دی.

د شهید مور ځواب ورکړ:

-هو ، هغه د خپلې مور او خپل وطن د ساتنې په جګړه کې وژل شوی دی. زه ډیره ویریدم چې ځوان بې تجربې زوی مې خپلو خلکو اوخپل ښار ته خاین نه شي. د ماریانا زوی وګوره. دا د خدای او خلکو دښمن، زموږ د دښمنانو مشر ټاکل شوی دی. لعنت دې وي په ده او د ده په مور او پلار... !

ماریانا څه و نه ویل؛ خو سهار د ښار ساتونکو ته ورغله اووې ویل:

-ما ووژنئ؛ ځکه چې زوی مې ستاسو دښمن دی. یا لاره پرانیزئ چې زه هم ورشم...

هغوی وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

-ته د دې وطن اولاد يې. زوی دې همغسې چې زموږ دښمن دی ، ستا دښمن هم دی.

-زه مور يم، هغه په ما گران دی، زه ډېره ځورېږم چې هغه...

ساتونکو سلامشوره پيل کړه...

-مورا ... شرافت اجازه نه راکوي چې تا، ستا د اولاد د خيانت په تور ووژنو. موږ پوهېږو چې تا هغه خاين نه دی روزلی او په دې هم پوهېږو چې ته څومره ځورېږې؛ خو پام چې ستا خاين زوی به ستا پروا هم و نه ساتي. ښايي چې ته به يې هېره شوې وې. همدا ستا له پاره ډېره لويه سزا ده ، ډېره لويه... !

د خاين مور وويل:

-هو . ډېره لويه... !

ساتونکو د ښار ور پرانيست او ښځه ولاړه. دا ورو – ورو په هغه ځمکه روانه وه چې زوی يې د هيواد پاله انسانانو او د ښار د ساتونکو په وينو خړوب کړې وه. ښځه د شهيدانو مړو ته دريده ، ورو- ورو يې ژړل او هغو ماتو وسلو ته يې په کرکه کتل چې په ځمکه پرتې وې. ميندې له يرغليزو وسلو څخه کرکه لري؛ خو هغه وسلې ستايي چې د خلکو او وطن د ساتنې له پاره پورته کيږي.

داسې ښکارېده چې گواکې ښځې تر خپل څادر لاندې د اوبو کاسه نيولې او نه غواړي چې تويې شي. ښځه هر څومره چې ليرې کېده، هومره کوچنۍ ښکارېده. د ښار د دروازې ساتونکي د خاين د مور په تگ ډېر خوښ شول، لکه چې ټوله ستوماني او بدمرغي يې پای ته رسېدلې وي!

ښځه د ښار له دروازې څخه ډېره ليرې ودريده او خپل گران ښار ته يې وکتل. دا وخت د دښمن د اډې ساتونکو دا وليده او د دې پر لور راغلل.

-څوك يې ؟ چيرې ځې؟

-ښځې ځواب ورکړ:

-ستاسو سردار زما زوی دی!

سرتيرو دا خبره ژر ومنله او ټول له دې سره څنگ په څنگ روان شول. سرتيرو د دې د زوی د پوهې او زړورتيا غوږې کولې. مور هم دا خبرې په غور اورېدې او په زړه کې يې د مړه غرور څپې بيا راولاړې شوې وې.

-د دې زوی بايد همداسې وای!!

لږ ځنډ وروسته دا د هغه چا سره مخامخ شوه چې ان تر زيږېدو د مخه يې پيژاند. هغه څوك چې تل يې د دې په زړه کې ځای درلود. دې ځوان د بخمل او وريښمو ښکلې جامې اغوستې وې او توره يې له جواهرو څخه جوړه وه. هر څه د مور په زړه برابر و. ښکلی زوی، گرانه وسله او ښکلې جامې ... مور خپل زوی څو ځلې همداسې په خوب ليدلی و ... شتمن، نوميالی، زړور او د پوځونو او ښارونو خاوند...!

زوی د خپلې مور لاسونه ښکل کړل.

-مورې ته راغلې، ډير ښه وشول. زه به سبا دا ناولی ښار ونيسم!

مور وويل:

-هغه ښار چې ته پکې زيږېدلی يې ؟!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په څير و لولئ

د پوځونو سردار چې د زړورتیا په میو مست او د ستر نامه لیوال و، ځواب ورکړ:

-ما په دی ښار ستا له پاره رحم کړی و. موري دي ښار زما د پرمختګ او برم مخه نیولې ده؛ خو اوس چې ته راغلي، سبا دا ښار ړنګ ووینه!

مور وویل:

-دا هغه ځاله ده چې هره ډبره یې تا ان له کوچنیوالی ښخه پیژني.

-ډېرې ژبه نه لري؛ خو پرېږده موري چې ان دا غرونه وغږېږي او ما وستايي ، زه د لویوالي او برم غوښتونکی یم!

مور پوښتنه وکړه:

-خلك به څنګه کيږي؟

-هو موري زما په یاد دي. د ټولو خلکو وژل په کار نه دي؛ ځکه د زړورو اتلانو خاطري یوازې د خلکو په اذهانو کې پاتیږي او بس.

مور وویل:

-اتل هغه څوك دی چې د ژوند له پاره جنګیږي...

-یه موريږ ورانونکي هم د ښارونو په څیر نوموتي وي. د مثال په توګه موږ نه پوهیږو چې د روم ښار (روملوس) ودان کړی دی که بل چا ؟ خو(الاریخ) او نور هغه زړور ټول پیژني چې ښار یې وران کړی دی.

مور وویل:

-هغه ښار چې د تل له پاره به ودان وي او هغه زړور چې اوس نشته.

مور او زوی تر ماښامه پورې وګړیدل؛ خو مغرور ځوان همغسې مست و او بیباکه.

مور اولاد زیږوي او ستونزې ګالي. مور ساتندویه او پالونکې ده. د مور په وړاندې د جګړې او ورانولو خبرې، له هغې سره د دښمنی مانا لري؛ خو ځوان په دې نه پوهیده او له خپلې مور سره په جنګ بوخت و.

مور، د مرګ دښمنه ده. مور له هغه لاس ښخه کرکه لري چې خلك وژني. مور ژوند غواړي؛ خو زوی ړوند و. د لوړ نامه او برم میني لیونی کړی و او هیڅ یې نه لیدل.

کله چې ژوند، هغه ژوند چې مور زیږولی ، پاللی اوروزلی له خطر سره مخامخ شی ، مور په یوه هوښیار؛ خو ډېر بیرحمه او بیباکه موجود بدلیږي. زوی په دې هم نه پوهېده.

مور غلې ناسته وه او د پوځي سردار له زریني کېږدۍ ښخه یې ښار ته کتل. په دې ښار کې مور د داسې یوه ماشوم د زیږولو دردونه ګاللی وو چې اوس د همغه ښار د ورانونکو د مشر په توګه ټاکل شوی و.

داسې ښکاریده لکه چې ټول ښار تیپې او په وینو لړلی وي. تیاره ورو- ورو ډېرېده، د تیارې له خوړېدو سره جوخت، ښار د یوه جسد بڼه غوره کړه چې د اسمان ځلیدونکي ستوري یې د شا اوخوا مشالونو په څیر ښکاریدل. مور ښار ته کتل. هغه ښار ته چې خلکو یې له ویرې ښخه ډېوې او اورونه نه شوای بلولای. مور ته د ښار تیاره کوڅې د خلکو مړي، د خلکو ژړاوې او چیغې ور په یاد شوې. مور په هرڅه ښه پوهیده ، دا د همغه خلکو اوهمغه ښار مور هم وه. له همدې امله د خپل تصمیم په عملي کولو کې لا هم غښتلې شوه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زوی وویل:

-که تیاره ډېره وي، همدا نن شپه به په ښار یرغل وکړم ! د لمر په وړانګو کې وسلې ځلیږي او ښې توري نه وهل کیږي.

زوی خپله زرینه توره پورته کړه او ښکل یې کړه.

مور وویل:

-زویه ، سر دې زما په ټټر کیږده. په یاد راوړه چې په کوچینوالي کې څومره په خلکو ګران وې؟

ځوان سرد مور په ټټر کښیښود ، سترګې یې پټې کړې او وې ویل:

-زه لوړ نوم ، برم او تا پیژنم ! دا درې څیزه پرما ګران دي او بس.ته هم ځکه راباندې ګرانه یې چې زه دې داسې زیږولی یم!

مور ورته وویل:

-ښځې څنګه ؟

-ټوله نړۍ په ښځو ډکه ده. زه په ښځو موړ یم...

مور بیا پوښتنه وکړه:

-اولاد نه غواړې ؟

-د څه له پاره ؟ د دې له پاره چې ووژل شي؟ زما په شان یو څوک به پیدا شي او هغه به ووژني. ته غواړې چې زه وځوریږم. هغه وخت به زه زوړ او بې وسه وم او د کسات د اخستو ځواک به نه لرم.

مور سوړ اسویلی وکیښ:

-ته یوه سوزنده بریښنا یې ؛ خو بې ګټې.

زوی وموسید او وې ویل:

-هو ، یوه سوزنده بریښنا ، څړیکه ، تندر.... !

او ویده شو.

دا وخت مور، زوی په خپل څادر کې پټ کړ او خپله لنده ؛ خو په زهرو لړلې توره یې د هغه په زړه کې ښخه کړه. زوی د مړژواندي مرغه په څیر دوه – درې ځلې ټکان وخوړ او مړ شو. اخر مور په دې ښه پوهیږې چې د زوی زړه یې چیرته غورځي. مور د خپل زوی مړی د هغ پلۍ ساتونکو پښو ته غوزار کړ ، ښار ته یې وکتل او وې ویل -ما د یوه انسان په نامه ، د خپل وطن او خپلو خلکو له پاره خپل ژوند ختم کړ ؛ خو زه به د یوې مور په توګه له خپل زوی سره پاتې شم ! زه به چیرته بیا زوی زیږوم او هغه به لویوم؟

!او همغه توره یې چې د زوی په وینو، یعنی په خپلو وینو سره او توده وه، په خپل زړه کې ښخه کړه. د غمونو په وینو ډک زړه ژر له کاره لوېږي.

پای

د ژباړې کال: ۱۳۵۸ هه ش- کابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ